ډاکټر لمر ۲۰۱۱/۱۰/۲۲

# اسلامي مشران د ټولنيز ترور په لومه کې

په نړۍ کې تر ننه ډېرې جګړې تر سره شوې دي چې لومړۍ نړېواله او دويمه نړېواله جګړه د جرمني په تېريو پيل شوه چې پايله يې د سلهاوو ميليونونو خلکو مړينه شوه. مګر هېڅوا له ځانه سره فکر ونه کړ، چې د دغو پېښو علتونه څه دي او څه ول. په دغو جګړو کې ملکونه وران شول، هم خلک ووژل شول او هم د ټولنو مخکښان. د دغو پېښو په ترڅ کې يوه پېښه ډېره په زړه پورې ده، چې په اسلامي نړۍ، افريقايي او يا هم وروسته پاتو ملکونو کې د ټولنې ولسمشران په ډېره فجيع بڼه وژل کېږي.

د افغانستان په پېښو کې له ۵،۲ ميليونو ډېر خلک ووژل شول او د انسان وژنې يوه ځانګړې برېوکۍ ليا خوره ده، چې په افغانستان کې د مړيو نڅا، په سرونو کې د مېخونو ټکوهل، په کانټېنرونو کې د خلکو ويشتل او په رودونو او ويالو کې د اشخاصو ډوبول يې ځانګړې بڼې دي، چې زړه بوږنونکې پېښې يې د کابل په ښار کې په نويمو کلونو کې د ټولوژنو په ترڅ کې وې او د طالبانو په موده کې د ډاکټر نجيب الله او د هغه ورور احمدزي وژنه او بيا يې د آريانا په څلور لاره کې ځړول ول، چې ټول بشر لاس په ګوته ورته پاتې شول.

د افغانستان ننني غميزې هم د شوروي اتحاد د سرو پوځونو له يرغل سره سم او د ثور د سرې کودتاه سره پيل شوې دي، چې بيا يې د روسي سوسياليزم لوبغاړي په يو او بل نامه ووژل شول او يا هم هجرتونو ته اړ شول. زه غواړم په دغه ليکنه کې هغه اندېښنه څرګنده کړم، چې وروستۍ شپې ورځې يې زما د ذهن آرام له منځه وړی، څکه چې په اسلامي نړۍ کې يې بيا يو ولسمشر فقيد معمر القذافي په ډېره نامردانه توګه وواژه او له وينو او جسده يې عام ننداړتون جوړ کړ، چې له انساني کرامته يو ډېر لرې کار دی.

امريکايان د شلمې پېړۍ په بهير کې د شوروي سوسياليزم سره په ساړه جګړه اخته ول، خو قرباني يې ډېر وروسته پاتې ملکونه شول، اما د افغان ولس په وينه يې د سرې غميزې د پای ټکی کېښود چې افغانستان دا دي د څو لسيزو په اوږدو کې په وينو کې لمبول کېږي اوخلک يې رټل کېږي.

د وروړسته پاتو ملکونو له ذهنيته داسې ښکاري چې ګواکې د ټول هېواد مسؤليت د يو شخص پر غاړه وي، څکه چې په دغه ملکونو کې د شخصيت پرستي کېش غوړول شوی وي او ټول له يوه شخصه د معجزې توقوع کوي. رابه شو دې ته چې آيا د يو شخص په وجدان يا وژلو به د يو ملک خلک نېکمرغه شي او که نه؟ له خواشيني سره بايد ياده شي چې په اسلامي نړۍ کې ډېر مشران په فجيع توګه وژل کېږي. په پاکستان کې د بوټو اعدام، د جنرال ضياع الحق الوزول او بيا د بې نظيرې ترور، په افغانستان کې د شهيد سردار داود خان، نور محمد تره کي او حفيظ الله امين وژنه، د ډاکتر نجيب له منځه وړل، په افريکا کې د پاتريسا لوموميا (Patrice Lummumba) وژل او همدا ډول په نورو ملکونو کې هم خلک په يو او بل نامه د سياسي سليقو پر بنسټ ووژل شول.

په يوويشتمه پېړۍ کې امريکايانو د نړيوال پوليس دريځ خپل کړی او دا دي د وروستيو لسو کلونو په بهير کې يې په ګڼشمېر ملکونو کې د نفاق اور بل کړی او د بېلابېلو ملکونو خلک يې په وينو کې ولمبول چې هره ورځ يې په سلهاوو تنه وژل کېږي او خلک يې د بې امني له ګواښ سره مخامخ کړي. په يو شمېر ملکونو يې په نېغه تېری کړی او د امريکايي او لوېديزوالو له چلند سره سم يې د اسلامي ملکونو مشران په ډېر سپکاوي له منځه يووړل، چې په اسلامي نړۍ کې يې د هويت ستونزې رامنځ ته کړې دي او د بنسټپالي برېوکۍ.

امريکايانو په يو او بل نامه د نورو ملکونو ليډران چې امريکايانو او يا لوېديزوالو ته ژمن نه وي، وژني او د سيمې خلک يې هم ورټل او هم يې ووژل. کله چې په اتيومو کلونو کې د پاناما ولسمشر (نوريېګو) له امريکايانو نه سرغړونه وکړه، نو امريکايانو نظامي يرغل پر پاناما وکړ او د پاناما ولسمشر (نوريېګو) يې په سپکاوي امريکا ته بوته او امريکايي جېل کې يې واچاوه.

په افغانستان کې هم په ډېرو مشرانو نخرې وشوې، چې ډاکتر نجيب الله د سولې سياست ته په ناپېيلي توګه هلې ځلې کولې، خو بيا هم په خپل سوله ييز سياست کې ناکام شو، چې د ناکامي او بيا په ډېر سپکاوي وژل کېدلو اساسي علت يې بلې ايډيالوژي ته ژمنتيا وه، چې د امريکايانو نه خوښېده او د خپل ناکامه دوښمن په توګه يې د خپلو ګوډاګيانو په لاس وواژه. د خاد رياست او سوسياليستي ذهنيت يې ورته پلمه کړه چې د مرګ جواز يې صادر کړي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په افغانستان کي د سياسي مشرانو وژل کوم ځانګړی کار ندی. په افغانستان کي هم سياسي وژني د استخباراتي کړيو په نغوته تر سره کېږي، چي په وروستيو څو مياشتو کي ګڼشمېر افغاني مشران ووژل شول، چي ښاغلي حامد کرزي هم يو کال مخکي د ملي قيام اندېښني يادي کړي او امريکايانو هم د احمد ولي کرزي د وژلو ګواښونه، چي پايله يي دا وه چي حامد کرزي په خپله واکمني کي د خپل ورور سر وخواړه، چي ټولو ته مالومه ده چي احمد ولي کرزی هم په ډېر مرموز حالت کي له منځه يووړل شو، مګر طالبان خو هسي هم د هر چا د مرګ مسؤليت پر غاړه اخلي.



د امريکا يرغل په عراق باندې هم يو له هغو تېريو څخه دی، چي خپل سيال صدام حسين يي له منځه يووړ او دا هم د عبرت د درس ورکولو يوه بې انصافه لړۍ ده، چي پايله يي په عراق کي د کورني جنګ اور دی، چي امريکايانو بل کړی اواسلامي ډلي تپلي ورته لمن وهي، چي لمبه يي تل تازه وساتي، خو قرباني د عراق وګړي دي او د اسلامي نړۍ سپکاوی. که دعراق پېښي ته پام وکړو، نو فقيد صدام حسين کوم بنسټپال مسلمان نه ؤ، خپل ملک ته يي بې ساری خدمت کړی ؤ، مګر له ايران سره د څو کلونو په بهير کي د جګړې په ترڅ کي يي د خپل هېواد د پولي ساتلو مسؤليت تر سره کاوه که نه نو ملک به يي ايرانيانو لاندې کړی وی. په عراق کي بيا د کوردي او شيعه مذهبو د سپياريتيزم يا بېلنتوب سره مخامخ ؤ، نو لکه ولسمشر د خپل هېواد ځمکني بشپړتيا ته ژمن و، ځکه يي د بېلنتوب مخه نيوله. بايد ياده شي، چي هرومرو په جنګ کي خواړه نه وېشل کېږي او خلک د جګړې قرباني کېږي، نو انسانان د خپل هېواد د خپلواکي قرباني کېږي، ځکه د خپل حريم او هېواد ساتنه په هر انسان فرض ده، که نه نو روسانو به د جرمني فاشيزم مريتوب منلی وی او خپل ملک به يي جرمنانو ته تسليم کړی وی، خو د دويمي نړيوالي جګړې پايله هم د ۵۰ ميليونو خلکو وژل ول، مګر د لسهاوو ملکونو خپلواکي او په نړۍ کي د نوي تاريخ رامنځ ته کېدل.

په عراق کي د فقيد صدام حسين اعدام د اسلامي اختر په لومړۍ ورځ تر سره شو، ځکه چي لويديزوالو او د هغوی لاسپوڅو د ټولي اسلامي نړۍ مسلمانانو د خوښي ورځ په غم ولړله او په ټوله نړۍ کي يي انسانان د وېر په ټغر کېنول. د صدام حسين د اعدام انځورونه يي هم د اسلامي نړۍ د سپکاوي په نښه په ټوليزو رسنيو کي له سپکاوي نه ډک خپاره کړل.

د ۲۰۱۱ کال له پيله رانيولي تر ننه پوري په اسلامي نړۍ کي د انارشي يوه نوي بربوکۍ رامنځ ته شوي چي د خلکو د انقلابونو لقب ورکړل شوی، مګر دغه ټولنيزه انارشي يي په لسهاوو ملکونو کي رامنځ ته کړې. په مصر کي امريکايانو خپل سيال حسني مبارک په ډېر سپکاوي دې ته اړ کړ چي له واکه تېر شي، ځکه چي د نړۍ ټولي رسنۍ، اقتصادي مرستي او ديپلوماتيک کانالونه دې ته وکارول شول، چي په مصر کي خلک دې ته ولمسوي چي ټولنيزه انارشي رامنځ ته کړي او د ملک واکمن بې واکه کړې او د خپلو مشرانو د سپکاوي تبۍ توده وساتي چي پايله يي د واکه د حسني مبارک لرې کېدل، د هغه د زړه او ماغزو سکته شوه او په ملک کي د بې مسؤليتي لړۍ.

په اسلامي نړۍکي د ملکونو د بربادولو هلي ځلي ليا هم رواني دي، چي پرون د ۲۰۱۱ د اکتوبر شلمه په ليبيا کي لاسپوڅو او ګوډاګيانو د خپل ملت مشر په ډېره نامېرانه ووژه. داسي ويل کېږي چي کله د سيرت (Sirte) ښار محاصره شو، نو معمرالقذافي په ډېره مېړانه له خپلو خلکو نه دفاع کوله، چي د ناټو يرغلګرو په دوی هوايي بريد وکړ او د شهيد معمر القذافي نقليه وسايل يي له منځه يووړل او معمر القذافي تر ځمکو لاندې سمڅو ته ولاړ، چي مقاومت وکړي، خو له بده مرغه چي معمر القذافي په دغه وخت په دواړو پښو ټپي شوی ؤ او ډېره وينه يي ضايع کړې وه، د فقيد معمر القذافي ډله په سمڅو کي هم محاصره شوه او د لاسپوڅو ځواکونو منګولو ته ورولوېدله. دغه مهال ولسمشر معمر القذافي ژوندی ؤ، خونامردو ليبيايي لاسپوڅو په ډېره نامردي يو ټپي شوی انسان په ډېره فجيعانه توګه ووژه او مړی يي په کوڅو کي واچاوه چي عام خلکو ته د ريشخندننداره شي.

د انسان په ژوند کي ډېري خوږې او ترخي تېرېږي، خو د ژوند پايله مرګ دی، چي ځينو ته د خپل هېواد د دفاع شهادت ورپه برخه کېږي، نو شهيد معمر القذافي هم د خپل هېواد شهيد شو او د خلکو اتل! د ژوند د تاوتريخوالي وروستۍ شېبې يي هم په مېړنه تېري کړې او د بشري تاريخ زريني پاڼي يي جوړې کړې. سر ببره پر دې چي د لړ


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

تر لږه د یو ۷۰ کلن سپین ږیري شخص په وینو د لیبیا ځمکه سره شوه، خو ډېر غاټول به د دغه شهېدانو په وینو وروزل شي.



زه کوم عرب نه یم او نه هم له لیبیا سره کوم تړاو لرم، مګر یوه موده چې ما په بهر کې لوړې زده کړې تر سره کولې، نو د دوو ملکونو خلکو ته مې پام شو، چې یو شمېر د عراق محصلین ول او بل شمېر د لیبیا د ملک محصلین ول. په اسلامي نړۍ کې د دغو دوو ملکونو محصلین د نورو په پرتله د تحصیل لپاره ښه امکانات درلودل، چې هم یې اقتصادي برخه او هم یې دیپلوماتیک برخه ډېره پیاوړې وه او د دغو ملکونو محصلینو کولی شوی په ویاړ ووایي چې د عراق او یا هم لیبیا وګړي دي.

په لیبیا کې په وروستیو ۴ لسیزو کې د ټولنې په پرمختګ کې ډېر کار شوی دی. د لیبیا طبیعي زېرمې، د تیلو فابرېکې او زېرمې د لویدیزوالو له اغېزو خلاص شول او لیبیا د سیاسي او اقتصادي پلوه یو خپلواک هېواد شو. فقید معمرو القذافي د ۲۰۱۱ میلادي کال له پیله یې له ډېرو بهرنیو ملکونو سره د خپل هېواد د پرمختګ لپاره ګڼشمېر پروژې په کار واچولې، چې قرادادونه یې په میلیارودونو ډالره ول، په اوکرایین کې یې ځمکه په اجاره نیولې وه چې د لیبیا لپاره غنم او نور اړین شیان پکې وکري او خپلو خلکو ته یې ورووړي، خو د شهید معمر القذافي دغه هلې ځلې د لویدیزوالو ټولنو لپاره د زغملو وړ نه وې، ځکه یې معمر القذافي په نامردانه توګه وواژه او د هغه کورنۍ یې په ډېره نامېرانه ستړه کړه.

پایله
درنو لوستونکو! که چېرې موږ په نړۍ کې په تېره بیا د اسلامي نړۍ د ولسمشرانو وژنو او په ټولنه کې د انارشي د رامنځ ته کولو پېښنو ته وګورو، نو دا را ته جوتېږي، چې په اسلامي ټولنو کې د زجر، جزا او وژلو توګې ډېرې فجیعانه دي، چې د یو ملک د وګړو ټولیزې نا پوهې او نا زغمي ته ښودنه کوي. ګرم که ولسمشر وي او که عادي وګړی وي باید له محکمې وروسته خپلې سزا ته ورسول شي او په دې برخه کې باید د بشري ارزښتونو غوښتنو ته درنښت وشي، نه دا چې په غیر انساني توګه له انسانانو سره چلند وشي، نه دا چې په خلکو سادیزم تر سره شي، ووژل شي او په مړیو یې بیا بزکشي وشي.

په درنښت


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ